بسم الله الرحمن الرحیم

د بحښونکی ډیر مهربان خدای په نامه

**قَالَ اللهُ تَعَالى:**

﴿إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذۡهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجۡسَ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِ وَيُطَهِّرَكُمۡ تَطۡهِيرًا﴾

سوره الأحزاب: **۳۳**

**پاک الله فرمايي:**

**"بيشکه الله تعالی غواړي چې اي د (رسول) اهلبيتو عليهم السلام له تا سو نه دې هر قسمه پليتي لرې وساتي او تا سو داسې پاک او صاف کړي لکه څنګه چې د پاکۍ حق دے."**

سپېځلې روضې

قَالَ رَسُولُ الله ﷺ:

«إني تاركٌ فيكُمُ الثَقلين: كتاب الله، وعترتي أهلَ بيتي، ما إن تمسكتُم بهما لن تضلوا أبداً وأنَّهُما لَن يَفترقا حتّى يردا عَليَّ الحوضَ».

رسول الله ﷺ وفرمایل:

زهٔ تاسو ته دوه درانه او ارزښتناک څیزونه پرېږدم: یو د خدا ے کتاب (قران) او بل زما اهلبیت، که چیرې په دې دوو مو منګولې ولګولې نو هیڅ کله به له ما وروسته بې لارې نه شئ، او دا دوه به یو له بله جدا کیږي نه تر دې چې د حوض (کوثر) په غاړه ما ته راورسیږي.

(صحیح مسلم، ۷ ټوک، ۱۲۲ مخ، سنن دارمـــي، ۲ ټوک، ۴۳۲ مخ، مسند احمد، ۳ ټوک، ۱۴، ۱۷، ۲۶او ۵۹ مخونه، ۴ ټوک، ۳۶۶ او ۳۷۱ مخونه، ۵ ټوک، ۱۸۲ مخ، مستدرک حـــاکـم، ۳ ټوک، ۱۰۹، ۱۴۸ او ۵۳۳ مخونه، او داسې نور کتابونه....)

# سپېڅلې روضې

ليکوال:
علامه سيد مرتضىٰ عسکري

مترجم:
سرفراز علي مهدي

د اهل بيتو نړيواله ټولنه

نام کتاب: علی مائدة الکتاب والسنة جلد۱۲؛ البناء علی قبور الانبیاء والاولیاء
نویسنده: سید مرتضیٰ عسکري
تهیه کننده: مجمع جهانی اهل بیت علیهم السلام - اداره ترجمه
مترجم: سرفراز علي مهدي
زبان ترجمه: پشتو

**د کتاب نوم:**

**سپېځلې روضې**

لیکوال: علامه سید مرتضیٰ عسکري
تیارونکې: د اهل بیتو د نړیوالې ټولنې د ژباړې څانګه
ژباړه او کمپوز: سرفراز علي ایم اے عربي
تصحیح: انور شاهین خانخېل
وروستۍ کتنه: ډاکټر عبدالرحیم درانی
صفحه بندي: فاطمه ګلزار
چاپ نېټه: ۱٤۳۷هـ ق (بمطابق ۲۰۱٦م)
دچاپ وار: وړومبی
شمېر:۲۰۰۰
چاپ خانه: اسراء
خپروونکې: د اهلبېتو نړیواله ټولنه
ISBN: ۹۷۸-۹٦٤-۵۲۹-۰
www.ahl-ul-bayt.org
info@ahl-ul-bayt

## لړلیک

په قبرونو د ودانۍ د جوړولو په حراموالي د اعتقاد لروونکو دلیلونه> ۱۱
د ړومبۍ برخې په روایتونو کښې اشکال> ۱۵
ړومبے اشکال: له هجرته مخکښې د مدینې حالات> ۱۵
دویم اشکال: د ماموریت وخت او ځاے> ۱۷
د دویمې برخې په روایتونو کښې اشکال> ۱۸
ړومبے: د بني اسرائیلو د پېغمبرانو د قبرونو په باب> ۱۸
دویم: د یهودو او بني اسرائیلو عبادتځاے (معبد)> ۲۴
د هغو کسانو دلیلونه چې د پېغمبرانو او ولیانو په قبرونو د عبادتځي او جومات جوړول جائز بولي> ۲۷
ړومبې: په قران کریم کښې> ۲۷
دویم: د رسول اللهﷺ په سنتو کښې> ۳۱

۱- په ابواء کښې د پېغمبر اکرمﷺ د مور بي بي قبر او د مور بي بي د قبر زيارت ته د: پېغمبر اکرمﷺ تګ۴۱
۲- په مدينه کښې د خدا ے د ګران رسولﷺ قبر مبارک۴۳
۳- د رسول اللهﷺ د قبر مبارک د زيارت ثواب۴۴
۴- د پيغمبر اکرمﷺ د قبر مبارک زيارت ته د اهلبيتوعليهم السلام او اصحابو تګ۴۶
د بحثونو نتيجه او خلاصه۴۸

# په قبرونو د ودانۍ د جوړولو
# په حراموالي د اعتقاد لرونکو دليلونه

مسلمانانو د پېغمبرانو او وليانو په قبرونو د ودانۍ د جوړولو، بيا رغولو، له هغو نه چاپېره تاوېدلو او د دغو قبرونو عبادتځاے او جومات ګرځولو په حقله له يو بل سره اختلاف لرلے دے. د دغو کارونو د حراموالي باور کوونکي په يو لړ روايتونو استدلال کوي چې په هغو کښې تر ټولو مهم دا دي:

الف- له حضرت علي‌عليه‌السلام يې روايت کړے دے چې فرمايلي يې دي: «كانَ رَسُولُ اللّهِ صلى‌الله‌عليه‌وآله فى جِنازَةٍ فَقالَ: أَيُّكم يَنْطَلق إِلَى الْمَدينَةِ فَلا يَدَعُ بها وَ ثَنا، إلاّ كَسَرَه، وَلا قَبْرا إلاّ سَوّاه، وَ لا صُورَة إلاّ لَطخَها؟ فَقالَ رَجُلٌ: أنَا يا رَسُولَ الله، فَانْطَلَقَ فَهابَ أهْلَ الْمَدينَةِ، فَرَجَعَ. فَقالَ عَلىٌّ: أنَا انْطَلِقُ يا رَسُولَ اللّه؟ قالَ: فَانْطَلِقْ. فَانْطَلِقَ ثُمَّ رَجَعَ فَقالَ: يا رَسُولَ

**اللّهِ! لَمْ اَدَعْ بِهَا وَ ثَنَا إلاّ كَسَرْتُهُ وَ لا قَبْرا إلاّ سَوَّيْتُه، وَ لا صُورَةً إلاّ لَطَخْتُها**»؛

پیغمبراکرمﷺ د یوه مړي په جنازه کښې ؤ چې وې فرمایل: «په تاسو کښې به څوک مدینې ته لاړ شي چې هلته ټول بتان مات کړي، ټول قبرونه وران او ټولې مجسمې یې دړې وړې کړي؟ یو سړي وویل: زه اے د خدا ے رسوله! زه به لاړ شم، وې فرمایل: لاړ شه، هغه لاړ او له خلقو اوېرېد او راستون شو علي؈ وویل:زه لاړ شم یا رسول الله ﷺ وې فرمایل: لاړ شه. بیا راستون شو او وې ویل: اے د خدا ے رسوله ﷺ! ټول بتان مې مات کړل، ټول قبرونه مې له مځکې سره برابر کړل او ټولې مجسمې مې دړې وړې کړې».

دا روایت د حدیثونو په کتابونو کښې څو ځل تکرار شوے دے خو مونږ یې دلته بشپړه عبارت ذکر کړ.[۱]

ب- له: پیغمبر اکرم ﷺ څخه روایت شوے دے چې وې فرمایل:

«أللّهُمَّ لا تَجْعَلْ قَبْری وَ ثَنا، لَعَنَ اللّهُ قَوْما اتَّخَذُوا قُبُورَ أنْبيائِهم مَساجِد»؛

«پروردګاه! زما قبر بت ونه ګرځوې، خدایه! لعنت وکړې په هغې ډلې چې د خپلو پیغمبرانو قبرونه یې جوماتونه وګرځول.»[۲]

په بل روایت کښې: پیغمبر اکرم ﷺ هغه کسان چې د خپلو پیغمبرانو قبرونه یې جوماتونه ګرځولي وو، معرفي کوي او فرمائي:

---

۱. مسند احمد بن حنبل، وړومبے ټوک ۸۷، ۸۹، ۹۲، ۱۱۰، ۱۱۱، ۱۲۸، ۱۳۹، ۱۴۵، او ۱۵۰مخونه، مسند طیالس ۹۲ او ۱۵۵ حدیثونه.

۲. مسند احمد بن حنبل، دویم ټوک ۲۴۲مخ.

«قاتَلَ اللّهُ الیَهُود، إتَّخَذُوا قُبُور أنْبیائِهم مَساجِد»؛

«خدا ے دې یهودیان ووژني، چې د خپلو پېغمبرانو قبرونه يې جوماتونه جوړ کړل. »[1]

ج- په هغه څه استدلال چې له: پېغمبر اکرم ﷺ څخه د قبرونو له زیارته د ښځو د منعې کولو په باره کښې روایت شوے دے، لکه څنګه چې ابن ماجه، ترمذي او ابو داؤد په خپلو سندونو سره له ابو هرېره، حسان او ابن عباس څخه نقل کړے دے چې:

«أنَّ رَسُولَ اللّه صلی‌الله‌علیه‌وآله لَعَنَ زَوّاراتِ القُبُور»؛

«پېغمبراکرم ﷺ د قبرونو زیارت ته تلونکو ښځو باندې لعنت کړے دے.»[2]

---

۱. مسند احمد بن حنبل، دویم ټوک ۲۸۵مخ.

۲. سنن ابن ماجه کتاب جنائز چاپ دارالکتب العربیه (۱۳۷۲هـ) وړومبے ټوک ۵۰۲مخ ۱۵۷۶ حدیث، سنن ابو داؤد، کتاب جنائز دریم ټوک ۲۱۸مخ، ۳۲۲۶ حدیث، مسند احمد بن حنبل، د

## د وړومبۍ برخې په روایتونو کښې اشکال

### وړومبے اشکال: له هجرته مخکښې د مدینې حالات

پیغمبراکرم ﷺ وروسته تر دې چې د مدینې ځینو خلقو اسلام قبول کړ تر هر کاره وړاندې یې وړومبے مصحب بن عمیر مسلمانانو ته د اسلام د هغه ورځو د حکمونو د یادولو لپاره ولیږهٔ ځکه چې د مدینې یوازې یو شمیر کسانو په هغه سفر کښې چې حج ته تللي وو په عقبه کښې حاضر شول او په پټه یې د رسول الله ﷺ بیعت وکړ او اسلام تر هغه وخته په هغوي کښې پراختیا ونه موندله تر څو چې: پېغمبر اکرم ﷺ د هغوي خوا ته هجرت وکړ او هغوي ورو ورو اسلام ته ګروهنه پیدا کړه، امام علي‌عليه السلام هم له دریو یا زیاتو ورځو وروسته په هغه مبارک پسې مدینې ته لاړ.

---

مصر چاپ (۱۳۱۳هـ) دوهم ټوک ۳۳۷ او ۳۵۲مخونه، او سنن ترمذي، ابواب جنائز، مصر چاپ (۱۳۵۰هـ) دویم ټوک ۲۷۲مخ.

مديني ته د: پېغمبر اکرم ﷺ د ورتګ واقعه هم مشهوره ده، او هم دغه رنګ: پېغمبر اکرم ﷺ وروسته له دې چې د بنی قریظه، بنی نضیر او بني قينقاع له يهودو سره تړون وکړي په مدينې يې خپل حکومت ورو ورو پراخه کړو، اوس چې په دغه بهير سره په مدينې کښې د اسلام د پېل او پراختيا په حقله پوهـ شوو نو پوښتنه دا ده چې:

پېغمبر اکرم ﷺ چرته او کله په داسې حال کښې چې د مړي په جنازه کښې موجود ؤ (چې له حديث نه پته لګي چې له مدينې نه بهر جنازه وه) امام علي عليه السلام يې مدينې ته وليږهٔ، چې بتان له منځه يوسي، قبرونه صفا او مجسمې دړې وړې کړي؟هغه هم د قدرت په وخت او د يو داسې واکمن په توګه چې له حکمه يې سرغړونه ممکنه نه وه؟ له دې نه علاوه وړومبے استازے چې څي او د خلقو له ويرې راستنيږي او پيغمبراکرمﷺ او نور صحابه هماغه شان د مړي په ښخولو اخته وو، بيا له هغهٔ وروسته: پېغمبر اکرم ﷺ امام علي عليه السلام وليږهٔ او هغوي هماغه شان د مړي په ښخولو

لګيا وو، دا څنګه امکان لري او دا څنګه مړے ؤ چې ښخول يې نه ختميږي؟

دويم اشکال: د ماموريت وخت او ځاے

د روايت په وروستۍ برخه کښې راغلي دي چې امام عليعليه‌السلام ابوالهياج اسدي ته وفرمايل:

«أبْعَثُك فيما بَعَثَنى رَسُولُ اللّهِ صلى‌الله‌عليه‌وآله: اَمَرَنى أنْ اُسَوِّىَ كُلَّ قَبْرٍ وَ أطْمِسَ كُلَّ صَنَمٍ»؛

«زۀ تا په يو داسې کار ګمارم چې د خداے ګران رسول صلى‌الله‌عليه‌وآله پرې زۀ مامور کړے وم، ما ته يې حکم راکړ چې ټول قبرونه صفا او ټول بتان له مېنځه يو سم.»[1]

يقيني خبره ده چې د حديث له مخې امام عليعليه‌السلام به ابوالهياج اسدي يوازې د خپل حکومت او خلافت په وخت کښې ګمارلے وي نو په دې بنياد بيا هم دا پوښتنه مطرح کيږي چې:

---

۱. مسند احمد، لومړۍ ټوک ۸۹ او ۹۲مخونه.

ابوالهیاج ته د امام علي‌ﷺ ماموریت چرته او کله ؤ؟ د امام علي‌ﷺ د خلافت په وخت؟ له اسلامي فتوحاتو وروسته؟ د دریو خلیفه ګانو له حکومته وروسته یا ترې وړاندې؟

امام علي‌ﷺ ابوالهیاج اسدي کومې علاقې ته ولیږۀ چې قبرونه وران او صفا او بتان نابود کړي؟

لنډه دا چې په دواړو روایتونو کښې، له پیغمبراکرم ﷺ او امام علي‌ﷺ څخه نقل شوي حکمونه، کۀ چرې دواړه صحیح وي نو دا به د شرک په علاقه کښې د مشرکینو د قبرونو د ورانولو او نابودولو په باب وي، د مسلمانانو په قبرونو او د هغوي په ورانولو باندې د حکم اطلاق د روایت په کومه برخه کښې ترلاسه کیږي؟

## د دویمې برخې په روایتونو کښې اشکال

وړومبے: د بني اسرائیلو د پېغمبرانو د قبرونو په باب

د تورات د خلقت سفر په پینځویشتم باب کښې یو روایت دے چې لنډیز یې داسې دے:

"ابراهیم وفات شو، او اسحاق او اسماعیل، هغه د "ممرا" په وړاندې د عفرون بن صوحار حثي په بیدیا کښې په "مکفیله" غار کښې ښخ کړ". [۱]

او په پنځوسم باب کښې یې راغلي دي: "کله چې حضرت یعقوب په مصر کښې وفات شو، د هغهٔ زوي "حضرت یوسف" هغه د "مکفیله" غار ته راوړۀ او د خپل پلار او نیکهٔ تر څنګ یې ښخ کړ".

د تثنیه سفر په څلور دیرشم باب کښې راغلي دي:

"موسیٰ د موأب په سیمه کښې وفات شو او د فغور کور په وړاندې "جواء" کښې خاورو ته وسپارل شو او هیڅوک تر ننه پورې د هغه قبر نهٔ پیژني".

او د یوشع سفر په څلور ویشتم باب کښې راغلي دي:

"هغه یې په افرایم غرهٔ کښې دفن کړ او د یوسف هډوکي په شکیم کښې ښخ شوي دي". او د تورات په اسفارونو کښې

۱. تورات، له عبراني، کلداني او یوناني ژبو، فارسي ژباړه: **۳۵**مخ).

د داؤد او د سلېمان د قبر ذکر نشته، د سپېڅلي کتاب د قاموس لیکوال، د صهیون په ژباړې او معرفي کېښې وائي:

"د داود او سلېمان د ښخولو ځاے پيژندل شوے نه دے"

د معجم البلدان د "الخلیل" په ماده کښې راغلي دي:

الخليل د يو ښار او کلي نوم دے، د يوې ورځې د لارې په فاصلې له بيت المقدس سره نژدې، قلعه ګانې، ودانۍ او بازار لري چې د ابراهيم خليل قبر هلته او تر زمکې لاندې په يو غار کښې دے.

هلته کښې زيارت دے د زيارت کوونکو د غونډېدو ځاے او ميلمستون دے او هغه ځاے ته "الخليل" وائي، اصلي نوم يې "حبرون" يا "حبري" دے.

په تورات کښې راغلي دي چې خليل له عفرون بن صوحار حِثی څخه د سپينو زرو په څلور سوه درهمو يو ځاے واخېستۀ او بي بي سارا يې هلته ښخه کړې ده، د حديثونو د خاوندانو يوه ډله له هغه ځاے سره منسوبه ده، هلته يو پاک او روحاني ځاے دے چې پرې د لورينې او برکت

اغيزې ښکاره دي وائي: هغه قلا د سلېمان بن داؤد ودانۍ ده.

هروي ويلي دي: په **۵۲۷** هجري قمري کال کښې بيت المقدس ته ورسيدم په هغه ځاے او الخليل ښار کښې مې د حديثو د خاوندانو له مشرانو سره وکتل، هغوي زما لپاره نقل کړ چې په **۵۱۳** هجري سپوږميز کال کښې د ملک بردويل په دوران کښې، د الخليل په غار کښې يو ځاے کښيناستۀ د فرنګيانو يوه ډله د باچا په اجازې سره هغه ځاے ته ورغله او هلته يې ابراهيم، اسحاق او يعقوب ومومندل کفنونه يې وراستۀ شوي وو او هغوي ديوال ته تکيه وو، د سرونو د پاسه يې قنديلونه ځوړند او سرونه يې لوڅ وو، باچا بيا پرې کفنونه وغوړول او کښيناستلے ځاے يې بند کړ.

وائي: د "سلفی" په نزد مې ولوستل: يو سړي چې "ارمني" يې ورته ويل د "الخليل" د زيارت نيت وکړ او د هغه ځاے منجور ته يې ډېرې ډالۍ ورکړې او وې غوښتل ترې چې د هغه لپاره د لاندې تګ او د ابراهيم د مړي د کتنې امکان

برابر کړي، ځواب يې واوريدۀ: اوس نه کيږي خو که چرې پاتې شې او زيارت کوونکي لاړ شي نو دا کار به وکړم. کله چې زائرين لاړل، يوه تيږه يې څنګ ته کړه او څراغ يې واخېستۀ او دواړه د اوياؤو درجو په اندازه د هغه غار په لور چې پکې پريمانه هوا چليده، ښکته لاړل، په غار کښې يو تخت ؤ چې ابراهيم پرې ملاست ؤ او شنه کپړا پرې غوړيدلې وه او په غار کښې چليدونکې هوا د هغۀ سپينه ږيره خوځوله، اسحاق او يعقوب هم د هغۀ په څنګ کښې وو، بيا يې هغه د غار ديوال ته نږدې بوتلۀ او ورته يې وويل: بي بي سارا د دغه ديوال شاته ده، هغۀ غوښتل چې د ديوال شاته وګوري چې ناڅاپه يو غږ راغے "حرم ته له نزدې کېدو ډډه وکړه" هغه ويلي دي: (د دغه غږ په اوريدو سره) له هماغه ځايه چې ښکته تلے وم ستون شوم.»[1]

د تاريخ ابن عساکر په وړومبي ټوک کښې په دې حقله يو مطلب راغلے دے چې په لنډه توګه داسې دے:

---

[1]. معجم البلدان، دويم ټوک ۴۲۸مخ)

کله چې له ۸۲ هجري کاله وروسته د دمشق جامع جومات د ولید بن الملک (چې په ۹۶ هجري کال کښې مړ شوے دے) په حکم کنستې کیدۀ، د یحي بن زکریا سر یې په صندوق کښې په یو لوښې کښې د ګنبد تر یوې ستنې لاندې وموندۀ او هغه یې په هماغه ډول تر یوې ستنې لاندې پرېښود په تورات او نورو کتابونو کښې د بني اسرائیلو د نورو پېغمبرانو د قبرونو ذکر نه دے شوے او د لوط، یوشع، ایوب، عزیر او زکریا قبرونه نه دي پېژندل شوي، او د مریم زوے عیسیٰ هم خدا ے خپل لوري ته پاس خېژولے دے.

دا وې خبرې د بني اسرائیلو (یهودو) د پېغمبرانو د قبرونو په حقله، مونږ نۀ لیدلي او نۀ مو اوریدلي او نه چا لیکلي دي چې یهودیانو د خپلو پېغمبرانو قبرونه، بتان جوړ کړي وي او په دې هم پوهیږو چې له قبره بت جوړول د قبر له درناوي او زیارت کولو سره فرق لري، د قبر بت ګرځول یا ترې بت جوړول، په دې معنا دي چې په نمانځه کښې قبر د

کعبې په څیر خپله قبله وګرځوې. نو د دغو دواړو پرتله او موازنه کول یو باطل قیاس دے.

دویم: د یهودو او بني اسرائیلو عبادتځاے(معبد)

د بني اسرائیلو (یهودو) عبادتځاے چې "عهد تابوت" پکښې ؤ، د اجتماع خیمې نوم درلودۀ، د تورات د خروج سفر (له **۲۵** تر **۲۸**) باب کښې د هغې د جوړولو په باب خپل پېغمبر، موسیٰ ته د خداے د پېغمبر د حکم څرنګوالے، او په (**۲۹** او **۳۰**) بابونو کښې بني اسرائیلو ته د خداے د حکم څرانګوالے، کله چې په دښته کښې وو د عبادت لپاره په "اجتماع خیمې" کښې ټول شوي دي.

بني اسرائیل چې به هر ځاے ته تلل خېمه او تابوت به یې له ځان سره وړل، تر دې چې د فلسطین سیمې ته ورسېدل، داؤد په هغه ځاے کښې د هغوي لپاره د خیمې او اجتماع په طرز د یوۀ عبادتځاے د ودانۍ سریزې برابرې کړې او سلېمان د هغۀ بنیاد کېښودۀ او د اجتماع خېمه او تابوت یې هلته کېښودل.

په دا ډول پوهیږو چې یهودیانو په هغه وخت کښې چې په صحرا کښې وو د خپل عبادت لپاره د اجتماع خېمه لرله او کله چې په فلسطین کښې مېشته شول نو حضرت سلېمان د هغوي لپاره خصوصي عبادتځاے "هیکل سلېمان" جوړ کړ چې د عبادت خېمه او عهد تابوت په هغه کښې کیږدي. (نو د پېغمبرانو د قبرونو بت جوړول او د هغو عبادت کول چرته وو؟)

البته ټول دې ته پام لرو چې په دغه تحقیق او څېړنه کښې زمونږ شک او نیوکه هیڅکله د: پېغمبر اکرمﷺ د حدیثونو په اړه نۀ ده، مونږ له دې کاره خداے ته پناه وړوو، زمونږ بحث او څېړنه یوازې د دغو حدیثونو د راویانو په باب ده، هغه راویان چې خداے هغوي له غلطۍ، تیروتلو او هېریدنې خوندي او امان کښې نۀ دي ساتلي. تر دې ځایه مو د هغو کسانو دلیلونه چې په قبرونو د ودانۍ جوړول او یا بیارغول د اسلامي شریعت خلاف کار بولي له ځوابونو سره یوځاے بیان کړل او اوس د هغو

کسانو دلیلونه بیانوو چې د قبرونو بیارغونه او پرې ودانۍ جوړونه له شریعت سره سم ګڼي.

# د هغو کسانو دلیلونه چې د پېغمبرانو
# او ولیانو په قبرونو د عبادتځي
# او جومات جوړول جائز بولي

مونږ د انبیاء او صالحینو لپاره د درنښت د مجلسونو د جوړیدو بحث کښې په زمان او مکان باندې د برکت او سپېرۀ والي د اثر او پراختیا څرنګوالے بیان کړ په دغه بحث کښې یو ځل بیا هماغه ځاے ته بېرته ستنیږو او د متعال خداے په اذن سره لاندینی موردونه ورزیاتوو:

## وړومبې: په قران کریم کښې

د خداے د پیغمبرانو او ولیانو د قبر په ځاے کښې د عبادت پر جائز والي عقیده لرونکي وائي: متعال خداے په قران مجید کښې فرمایلي دي:

الف- ﴿ وَٱتَّخِذُواْ مِن مَّقَامِ إِبْرَٰهِـۧمَ مُصَلًّى﴾؛[۱]

"او د ابراهیم له مقامه عبادتځای جوړ کړئ."

ب- ﴿ قَالَ ٱلَّذِينَ غَلَبُواْ عَلَىٰٓ أَمْرِهِمْ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِم مَّسْجِدًا﴾؛[۲]

"کله چې د هغوي (اصحاب کهف) په حال خبر شول، وې ویل: د هغوي په ځای یو جومات جوړوو."

د مقام ابراهیم واقعه مو په دویم ټوک کښې د خدای پاک د نېکو بندګانو او پېغمبرانو د درناوي په مجلسونو کښې بیان کړې ده، هغه څه چې بخاري په خپل صحیح کښې بیان کړي په لنډه توګه داسې دي:

د خدای د کور د جوړولو په وخت د اسماعیل او ابراهیم کار دا ؤ چې اسماعیل به کاڼي راوړل او ابراهیم به

۱. سوره بقره: ۱۲۵.
۲. سوره کهف: ۲۱.

کېښودل، ان تردې چې دیوال لوړ شو، اسماعیل به کاڼي ورته په لاس ورکول چې ودانۍ جوړه کړي، د ابراهیم مقام چې خدا ے مونږ ته حکم راکړے چې ترې د عبادت ځا ے او د نمونځ ځا ے جوړ کړو، هماغه ځا ے د ے".

په دغه کور کښې چې اته ګوتونه لري یوه تیګه ده چې پرې د ابراهیم د پښو نښې جوړې دي، له مقام ابراهیم نه مراد هم دا د ے.

په تفسیرونو کښې د اصحاب کهف کوټلې واقعه:

اصحاب کهف د دقیانوس د دربار د ځوانمردو او میړنو یوه ډله وه، هغه باچا چې د خدائۍ دعوا یې کوله، هغوي په پټه په خپل پروردګار ایمان راوړۀ او له خپل باچا نه وتښتیدل او په یو غار کښې یې پناه واخېسته. خدا ے پاک له هغوي هوش واخېست او څو سوه کاله یې اودۀ کړل او بیا یې ویښ کړل، هغوي یو تن د خوراک او ډوډۍ د برابرولو لپاره ښار ته ولیږۀ د ښار خلق له هغه سره د پخوانیو سیکو په لیدلو سره د هغوي په راز پوهـ شول، د ښار خلق په هغه وخت کښې مومنان وو او له ښاره د یوې مومنې ډلې د خپل دین د

ساتنې لپاره د تبنتېدو له واقعې خبر وو نو ځکه کله چې د هغوي له ځايه خبر شول، د غار لوري ته ورغلل، دا خبر هغو ځوانمردو او مېړنو کسانو ته ورسېدۀ خو دا يې نه خوښوله چې بيا ښار ته ستانۀ شي نو له خدايه يې وغوښتل چې بيا يې هماغه حال ته ستانۀ کړي، خدا ے يو ځل بيا هغوي د مړيو په شان اودۀ کړل د ښار خلق له هغوي سره د چلند د څرنګوالي په باب په بحث او خبرو اترو لګيا شول او هغه کسان چې د اصحاب کهف له حاله خبر شوي وو، وويل: د هغوي په ځا ے يو جومات جوړوو.[1]

د بحث نتيجه

په وړومبي ايت کښې خدا ے پاک مونږ ته حکم راکړ چې د ابراهيم د پښو له ځايه د نمانځه ځا ے جوړ کړوو او بيا د خدا ے عبادت وکړو، دا کار په هيڅ دليل شرک نۀ دے بلکې عبادي توحيد او د پاک خدا ے سم اطاعت د ے، په دويم ايت کښې خدا ے د داسې مؤمنانو خبر ورکړے د ے

١ .د ايتونو د تفسير لپاره د تفسير کتابونو ته مراجعه وکړئ.

چې اراده یې وکړه چې د هغو مؤمنو ځوانمردانو په ځای یو جومات جوړ کړي او په هغه ځای کښې د خدای عبادت وکړي او هغه(خدای) ته سجده وکړي، دا ټول مومنان وو، نه مشرکان! خدای هم هغوي په دغه کار ملامت کړې نهٔ دي.

دا دوه مثالونه مو د خدای پاک له کتابه بیان کړل او اوس د: پېغمبر اکرم ﷺ له سنتو څو نمونې بیانوو:

## دویم: د رسول الله ﷺ په سنتو کښې

الف: په صحیح مسلم، نسائي، ابن ماجه، ترمذي او موطا مالک کښې له بریده، د هغه له پلاره راغلي دي:

«قالَ: قالَ رَسُولُ اللّه صلی‌الله‌علیه‌وآله نَهَیْتُکُمْ عَنْ زِیارَةِ الْقُبُور فَزُورُوها ...»؛

راوي وائي: **پیغمبراکرم** ﷺ **وفرمایل**: «ما تاسو د قبرونو له زیارته منع کړئ (خو) اوس د هغو زیارت ته ځئ. »[۱]

په سنن ابو داود کښې د دغه حدیث په آخر کښې راغلي دي:

«**فَاِنَّ فی زِیارَتِها تَذْکِرَةٌ**»؛

«ځکه چې د قبرونو په لیدو کښې پند او نصحیت دے.»

په سنن ابن ماجه کښې د ابن مسعود له قوله وائي:

«**إنَّ رَسُولَ اللّه صلی‌الله‌علیه‌وآله قالَ: کُنْتُ نَهَیْتُکُم عَنْ زیارَةِ الْقُبورِ فَزُورُوها فَإنَّها تُزَهِّدُ فِی الدُّنْیا وَ تُذَکِّرُ فِی الآخِرَةِ**»؛

«په تحقیق سره د خدا ے رسول ﷺ وفرمایل: ما مخکې تاسو د قبرونو له زیارته منع کړئ خو اوس یې د زیارت

۱. صحیح مسلم، ۷۷۹ حدیث، سنن نسایي، څلورم ټوک ۸۹مخ، سنن ابن ماجه، وړومبے ټوک ۵۰۰ او ۵۰۱مخونه، سنن ترمذي، څلورم ټوک ۲۷۴مخ، سنن ابي داؤد، ۳۲۳۵ حدیث، مؤطا مالک، دویم ټوک ۴۸۲مخ.

لپاره ځئ، چې د قبرونو زیارت دنیا بې ارزښته کوي او آخرت دریادوي.»[١]

ب: د اسماعیل له دورانه د خاتم الانبیاء ﷺ تر وخته پورې په مکه او مدینه کښې د پېغمبرانو او رسولانو د قبرونو واقعه:

١ - په مکه مکرمه کښې:

په ټولو دورانونو کښې د کعبې ټول طواف کوونکي د بیت الله شریف له طواف سره په یو وخت د حجر اسماعیل طواف هم کوي او د هغه له دیوالګي سره د ځان په سولولو سره د تبرک کېدو کوشش کوي او دا هغه ځاے دے چې اسماعیل او د هغهٔ مور هاجره په کښې ښخ کړې شوي دي.

د ابن هشام (وفات: ٢١٨) په سیرت، د طبري (وفات ٣١٠هـ) په تاریخ، د ابن اثیر (وفات ٢٣٠هـ) په تاریخ او په ابن کثیر (وفات ٧٧۴هـ) کښې یو لړ روایتونه راغلي چې وائي: اسماعیل له خپلې

١. سنن ابن ماجه، ١٥٧١ حدیث.

مور هاجرې بي بي سره په حجر کښې ښخ دے". اسماعیل وصیت وکړ چې د خپلې مور د قبر تر څنګ په حجر کښې ښخ کړې شي".

ابن سعد په خپل طبقات کښې وائي:

اسماعیل چې کله شل کلن شو مور هاجره بي بي بې په نوي کلنۍ کښې وفاته شوه او هغهٔ مور په حجر کښې دفن کړه، اسماعیل هم له خپل پلار ابراهیم وروسته وفات شو او د خپلې مور هاجرې بي بي تر څنګه د کعبې په خوا کښې خاورو ته وسپارلے شو.

په یو بل روایت کښې وائي: د اسماعیل قبر د ناوې (پرنالے) لاندې د رکن او بیت تر مېنځ دے.[1]

په الاکتفاء کلاعي کتاب کښې یو روایت دے چې په لنډه توګه داسې دے:

"هاجره، اسماعیل او زوے نابت په حجر کښې ښخ کړې شوي دي.[1]

---

۱. طبقات ابن سعد یورپ چاپ وړومبے ټوک **۲۵** مخ چې کوتلے او لنډیز مو ذکر کړ.

ابن جبیر په خپل سفر لیک کښې د اسماعیل او د هغه د مور هاجرې بي بي د قبر ذکر کړے او فرمائي:

د ناوې (پرنالې) لاندې په حجر انګړ کښې د بیت الله الحرام له دیوال سره نزدې د اسماعیل قبر دے، نښه یې شنه تیږه ده چې مرمرین او د محراب په څېر مستطیل ده چې نور شنه مرمرین کاڼي ورسره ګېرچاپېره لګیدلي دي، دواړه تیږې حېرانونکې او د لیدو وړ دي، پکښې رګونه او ټکي دي چې زیړ بخنه دي داسې لکه چې پکې درز وي او په بوټې کښې د ویلو شویو سرو زرو پاتو زرو ته ورته دي، په څنګ کښې یې له رکن عراقي سره نزدې، د هغه د مور هاجرې بي بي قبر دے د هغه هم د یونیم لویشت په اندازه یوه شنه تیږه ده، خلق په نمانځۀ کښې حجر له دغو دوو ځایونو تبرک اخلي او دا د هغوي خوښ کار دے ځکه چې هغه دوه قبرونه د بنت عتیق دي او دوه سپیڅلي او درانۀ مړي لري، داسې قبرونه چې

۱. الاکتفاء فی مغازی المصطفی و الثلاثة الخلفاء ۱۹۹مخ، تصحیح (هنري ماسه) (جول کریونل) چاپ، الجزائر ۱۹۳۱ میلادي.

خدا ے نوراني کړي دي او په برکت يې په هغه ځا ے کښې نمونځ کوونکو او دعا کوونکو ته ګټه رسولې ده.

د دغو دوو سپېڅلو قبرونو تر منځ اووۀ لوېشته فاصله ده.[۱]

عبدالرحمان بن جوزي (وفات: **۵۹۷** هجري) په خپل کتاب کښې په حرم کښې د ښخ شويو بزرګانو د معرفې په باب کښې ليکي:

له صفوان بن عبدالله الجحمي روايت شوے دے چې ويلي يې دي: "ابن زبير (د بيت په خوا کښې) يو ځا ے وکنلو، د شنې تيږې يوه برخه پېدا شوه، له قرېشو يې د هغې په حقله توضيح وغوښتۀ، هيڅوک له هغه خبر نه وو خپل پلار ته مې وليږله او له هغه يې وپوښتل پلار مې وويل: دا د اسماعيل د قبر ده، هغه يو خوا بل خوا نه کړې، هغه همدا سې وکړل."[۲]

---

۱. ابن جبير، محمد بن احمد بن جبير کناني اندلسي...(د **۵۴۰** يا **۵۳۹** هـ وړومبۍ خور د خالي په شپه زيږيدلے دے او د **۲۱۲** هجري کال د برات په **۲۷** او **۲۹** نيټه د چارشنبې په شپه په اسکندريه کښې مړ شوے دے).

۲. "مثيرالغرام الساکن الى اشرف الاماکن" دارالرايه المنشر رياض چاپ **۱۴۱۵** هجري، **۲۱۸**مخ).

ابن زبیر ویلي دي: دغه نیم دائره (دیوال) دې ته اشاره کوي چې هغه ځه چې مسجدالحرام له رکن شامي سره ګنډي د اسماعیل د پېغلو لوڼو قبرونه دي. روایت شوے چې د باران د ناوې (پرنالې) تر لویدیځې دروازې پورې د دفن ځاے، حجر اسماعیل دے.

ابو عبدالله محمد بن اسحاق الفاکهي (وفات: ۲۷۲هـ) د خپل کتاب "معرفي قبور دوشیزګان اسماعیل" په باب کښې لیکي: روایت شوے دے چې ابن زبیر ویلي دي: "دا نیمه دائره چې له شامي رکن سره یو ځاے شوې ده د اسماعیل د پېغلو قبرونه دي" ابن ابی عمر په خپل حدیث کښې وائي: "راوي له سفیانه وپوښتل: دا کوم ځاے دے؟ هغه په خپل لاس سره لویدیځ رکن ته مخامخ چې د یماني رکن له دارالعجلة سره یوځاے کیږي "حجر" ته اشاره وکړه".[1]

---

۱ . من اخبار مکه فی عدیم الدهر و حدیثه، بیروت چاپ ۱۴۱۴هـ.

دغه مطلب عبدالرزاق هم، د "مصنف" د پينځم ټوک په ۱۲۰مخ او ازراقي د خپل کتاب د دويم ټوک په ۶۲ مخ ليکلې دے.[۱]

ابن جوزي په حرم کښې ښخ شويو بزرګانو د معرفۍ په باب کښې او ازراقي په اخبار مکه کښې روايت لري چې په لنډه توګه داسې دے:

"هر پېغمبر چې امت به يې هلاک شو مکې ته به راتلۀ او له مؤمنانو سره يو ځاے به يې عبادت کوۀ ان تردې چې به وفات شو، هود، صالح او شعيب هم پکې شامل وو. او د رکن، (ابراهيم) مقام، زمزم او حجر (اسماعيل) تر مينځ، د نهه نوي پېغمبرانو قبرونه دي".

ابوبکر فقيه له پيغمبراکرم ﷺ روايت کړے دےچې وې فرمايل:

---

۱. د هغه څۀ په بنياد چې د اخبار مکه په ۱۲۳مخ، لمن ليک کښې راغلي دي.

"هيڅ يو پېغمبر له خپل قومه جدا نه شو، مګر دا چې کعبې ته به راغے او د خدا ے عبادت به يې وکړ ان تردې چې له دنيا به يې کوچ وکړ، د هود، شعيب او صالح قبرونه د زمزم او مقام ابراهيم تر مينځ دي د دريو سوو پېغمبرانو قبرونه په کعبه شريفه کښې دي او له يماني رکن نه تر اسود رکن پورې اويا (۷۰) پېغمبران دفن دي".[۱]

څه چې بيان شول د خلفاؤ مکتب په کتابونو کښې نقل شوي روايتونه وو. د اهلبېتو عليهم السلام د مکتب د حديثونو په کتابونو کښې هم د دې په څېر يو شمېر روايتونه شته چې په دا ډول دي:

کليني (وفات نېټه ۳۲۹هـ) په کافي کښې، صدوق (وفات نېټه ۳۸۱هـ) په من لايحضره الفقيه او علل الشرائع او فيض کاشاني (وفات نېټه ۱۰۸۹هـ) په وافي او مجلسي

۱مختصر کتاب البلدان، تاليف، ابوبکر بن فقيه همداني (۳۴۰هـ) بريل چاپ، لندن ۱۳۰۲هـ ۱۷مخ.

(وفات نيټه ۱۱۱۱هجري) په بحارالانوار کښې روايت کړے دے چې د کافي عبارت دا دے:

د هاجرې بي بي او اسماعيل قبرونه په حجر کښې دي، او همدغه رنګ روايت راغلے دے په حجر کښې د پېغمبرانو﷩ قبرونه دي،

په کافي، وافي او بحار کښې راغلي دي: په حجر کښې د دريم رکن په حدودو کښې د اسماعيل او د هغهٔ د کورنۍ قبرونه دي.[1]

دا روايتونه په مکه مکرمه کښې د پېغمبرانو او وليانو د قبرونو په حقله وو، په راتلونکې برخې کې له مکې نه پرته په نورو ځايونو کښې د هغوي د قبرونو ذکر کوو:

---

۱. فروع کافي، کتاب حج، د ابراهيم او اسماعيل د حج باب، ۴۱ حديث، څلورم ټوک ۲۱۰مخ، من لايحضره الفقيه، حج کتاب، دويم ټوک ۱۲۵مخ، وافی، حج کتاب اتم ټوک ۲۸مخ، بحار الانوار، النبوة کتاب، پينځم ټوک، ۱۴۳ او ۱۴۴مخونه.

**۱- په ابواء کښې د پېغمبر اکرم ﷺ د مور بي بي قبر او د مور بي بي د قبر زیارت ته د: پېغمبر اکرم ﷺ تګ**

د معجم البلدان کتاب لیکوال د ابواء په معرفۍ کښې وائي:

"ابواء" د مدینې منورې په خوا کښې یو کلے دے چې د مدینې له لورې تر جحفه پورې یې فاصله درېویشت میله ده".

د: پېغمبر اکرم ﷺ د مور د وهب د لور "آمنه" بي بي قبر په ابواء کښې دے، په ابواء کښې خاورو ته د سپارلو سبب دا ؤ چې د رسول الله مبارک ﷺ پلار عبدالله مدینې ته لاړ چې خرما راوړي او هغه په مدینې کښې وفات شو، د هغه مېرمن د وهب لور آمنه به په کال کښې یو ځل د هغۀ د قبر د زیارت لپاره مدینې ته تله، کله چې: پېغمبر اکرم ﷺ شپږ کلن شو آمنه له عبدالمطلب او د: پېغمبر اکرم ﷺ له

داینې ام ایمن سره د مدینې په لور روانه شوه او مکې ته د ستنیدو په وخت په ابواء کښې وفات شوه.[۱]

د ابن عساکر په تاریخ کښې راغلي دي:

«د خدا ے د ګران رسول ﷺ او زمونږ د آقا مور د وهب لور آمنه وه، هغې: پېغمبر اکرم ﷺ د بني عامر بن نجار قبیلې، د خپلو ماماګانو د کتنې لپاره مدینې ته بوتلۀ، بیا مکې ته ستنه شوه او د مکې او مدینې تر مینځ په ابواء کښې په داسې حال کښې چې رسول الله مبارک ﷺ شپږ کلن ؤ وفات شوه.[۲]»

ابن عساکر په طبقات کښې د دغه خبر په تشریحولو پسې یو مطلب زیات کړے چې په لنډا توګه داسې دے:

«رسول الله مبارک ﷺ چې کله د عمرې له لارې له حدیبې نه ابواء ته ورسید نو د خپلې مور آمنې بي بي قبر خوا ته

۱. معجم البلدان، یاقوت حموي، ورومبے ټوک ۱۰۰مخ.
۲. مختصر تاریخ دمشق، ابن عساکر، دویم ټوک ۱۰۰مخ.

راغے، قبر یې سم کړ او تر څنګ یې وژړل او ورسره صحابه ؤ هم د: پېغمبر اکرم ﷺ د ژړا په خاطر وژړل.

د مور په قبر د خداے د ګران رسول ﷺ د ژړېدلو او د اصحابو د ژړېدو خبر د حدیث په نورو کتابونو کښې هم راغلے دے.[۱]

**۲- په مدینه کښې د خداے د ګران رسول ﷺ قبر مبارک**

په طبقات ابن سعد او سیره ابن هشام کښې روایت دے چې په لنډه توګه داسې دے:

«رسول الله ﷺ په خپل کور کښې په هماغه کوټه کښې چې پکې وفات شوے ؤ، خاورو ته وسپارل شو، چې وروسته

۱. طبقات ابن سعد، بېروت چاپ ۱۳۷۶هـ، وړومبے ټوک ۱۱۲مخ. سنن نسائي د جنازو کتاب، وړومبے ټوک ۲۲۷مخ، سنن ابي داؤد، ۳۲۳۴ حدیث، سنن ابن ماجه، ۱۵۰۲ حدیث.

دوه خلیفه ګان، ابوبکر او عمر هم په هغه ځاے کښې ښخ کړې شول، بیا یې دغه شین ګنبد پرې د پاسه جوړ کړ.» [۱]

**۳- د رسول الله ﷺ د قبر مبارک د زیارت ثواب**

دار قطني په سنن، طبراني په معجم او فاکهي په اخبار مکه کښې په خپلو سندونو سره د ابن عمر له قوله لیکلي چې وې ویل:

**«قالَ رَسُولُ اللّهﷺ: مَنْ حَجَّ فَزارَ قَبْری بَعْدَ مَوْتی کانَ کَمَنْ زارَنی فی حَیاتی»؛"** د خداے ګران رسول ﷺ وفرمایل: څوک چې حج ادا کړي او له رحلته وروسته مې زیارت وکړي، د هغه چا په شان دے لکه چې په ژوندون کښې یې زما زیارت کړے وي. [۲]

---

۱. طبقات ابن سعد، دویم ټوک، ۲۹۷ او ۲۹۴مخونه. سیرة ابن هشام، څلورم ټوک، ۳۴۳مخ.

۲. سنن کبری بیهقي، پینځم ټوک ۲۴۲مخ، سنن دار قطني، دوهم ټوک ۲۷۸مخ، اتحاف السادة المتقین زبیدي، څلورم ټوک ۴۱۶مخ، ترواء الغلیل، الباني، ۴ ټوک ۳۳۵مخ، کنزل العمال ۵

طیالسي په خپل سند سره له حضرت عمر څخه روایت کړے دے چې وې ویل:
وامې وربدل چې: پېغمبر اکرم ﷺ فرمایل:
«مَنْ زارَ قَبْری اَوْ مَنْ زارَنی کُنْتُ لَهُ شَفیعا اَوْ شَهیدا»؛
هر څوک چې زما زیارت وکړي یا زما د قبر زیارت وکړي نو زۀ به د هغۀ شفاعت کوونکے یا د هغۀ ګواه یم.[1]

ټوک ۷۰مخ، مجمع الزوائد، هیثمي، ۴ ټوک دویم مخ، درالمنثور، سیوطي، وړومبے ټوک ۲۳۷مخ، معجم الکبیر طبراني ۱۲ټوک ۴۰۷مخ.
۱. مسند طیالسي (فوت ۲۰۴ھ) دولسم مخ، کنزالعمال، ۲۰ټوک ۱۲۱مخ، مختصر تاریخ دمشق، دویم ټوک ۴۰۲مخ، المطالب العالیة، ابن حجر ۱۲۵۴مخ، درالمنثور، سیوطي وړومبے ټوک ۲۳۷مخ، معجم الکبیر، طبراني، دولسم ټوک ۴۱۷مخ.

### ۴- د پیغمبر اکرم ﷺ د قبر مبارک زیارت ته د اهلبیتو علیهم السلام او اصحابو تګ

الف- بي بي فاطمه د رسول الله ﷺ د قبر وروسته زیارت کوونکې

ابن جوزي په خپل سند سره له امام علي علیه السلام روایت کړی دی چې وې فرمایل: "کله چې د خدای ګران رسول ﷺ خاورو ته وسپارل شو نو بي بي فاطمه یې قبرمبارک ته راغله لږه اودریده او بیا یې له قبر څخه د خاورو یو موټی راواخیستئاو په سترګو یې کیښودئ او ډېره وژړیده او دا بېتونه یې ولوستل:

مَا ذا عَلى منْ شَمّ تُربَةَ اَحمَدٍ
اَنْ لا يَشُمّ مَدَى الزّمانِ غَوالِياً
صُبّتْ عَلَيّ مَصَائبٌ لو اَنّها
صُبّتْ عَلَى الايامِ عُدْنَ لَيالِياً[1]

---

۱. مثیر الغرام الساکن، مخ ۳۰۰.

فارسي منظومه ترجمه

راستي آنکه شمیم سرکویت بوییـد
چه غم از بوی دو عالم به مشامش نرسد
بـر مــن آن شـد که اگر بـر همه ایام رود
ظلمت دهر به تـاریـکـي شـامش نـرسد

ژباړه:

په رېښتیا چې څوک ستا د کوڅې وږمه بوي کړي،
په دواړو عالمو کښې به د غم بوې ورونه رسیږي،
په ما داسې غمونه راغلل چې که چېرې په ورځو راغلي وو،
نو ورځې به په تورو شپو بدلې شوې وې.

ب- ابو ایوب انصاري هغه زوار چې مخ یې د رسول الله مبارک په پاکو خاورو مَږۀ

په مجمع الزوائد کښې په خپل سند له ابو داود بن صالح څخه نقل شوي دي چې هغۀ وویل: یوه ورځ مروان د رسول الله مبارک ﷺ د قبر خوا ته وکتل او وې لیدل چې یو سړي

خپل مخ په قبر مبارک کېښوده، وې ویل: خبر یې چې دا څه کوې؟ هغه سړي چې د: پیغمبر اکرم ﷺ صحابي ابو ایوب انصاري ؤ، خپل مخ یې مروان ته واړوه او وې ویل: هو! «خبر یم چې څه کوم» زه د رسول الله ﷺ د قبر زیارت ته راغلم، د حجر زیارت ته لا نه یم تلې.[1]

## د بحثونو نتیجه او خلاصه

د پیغمبرانو او ولیانو په قبرونو د ودانۍ د جوړولو، بیارغونې او هغه د عبادتځاے د جوړولو په حراموالي باور کوونکي، د ځینو روایتونو په استناد سره وائي:

وړومبے: امام علي ؑ ابوالهیاج اسدي ته وفرمایل:

«زه تا په هغه کار ګمارم او مقرروم په کوم کار چې د خداے ګران رسول ﷺ زه ګمارلے وم، او وې فرمایل:: پیغمبر

---

۱. مجمع الزوائد، کتاب الخلافة، بیروت چاپ ۱۹۲۷م، او پینځم ټوک، **۲۴۵**مخ، دا روایت په بل عبارت د همدغه کتاب د څلورم ټوک په دویم مخ کښې راغلے دے او مسند احمد **۵**ټوک ۲۲۴مخ، مستدرک حاکم **۵**ټوک **۵۱۵**مخ.

اکرم ﷺ د يوۀ مړي په جنازه کښې ؤ چې وې فرمايل: په تاسو کښې څوک مدينې ته ځي، چې ټول بتان مات، ټول قبرونه هوار او ټولې مجسمې دړې وړې کړي؟ يو سړے د دغه کار د ترسره کولو لپاره روان شو، خو د مدينې له خلقو ووېرېدۀ او ناکامه راستون شو.بيا امام علي؈ روان شو او هغۀ ټول کارونه ترسره کړل.

په دې خبرې پوهېدل ګران دي چې په دغه روايت استدلال کوونکي څنګه په دې کښې موجودو اشکالاتو ته متوجه شوي نه دي؟

آيا: پېغمبر اکرم ﷺ په مکه کښې د مړي په ښخولو بوخت وو خپل استازے مدينې ته لېږي او هغه ناکام راستنېږي او بيا د خپل ترۀ زوے علي؈ لېږي او هغه ټول حکمونه ترسره کوي، يا په مدينه کښې وو؟

د مړي د ښخولو دا دستورې او مراسم څومره اوږدۀ وو چې وړومبے سړے ځي او ناکامه راستنېږي او بيا د: پېغمبر اکرمﷺ د ترۀ زوے روانېږي او ټول قبرونه ورانوي او ټولې مجسمې دړې وړې کوي او ټول بتان ماتوي؟ آيا د

دغو بتانو خاوندان مسلمانان وو که چرې مسلمانان وو نو د څه لپاره یې بتان ساتلي وو؟

او که چرې مشرکان وو نو څنګه په یوازې سر د: پېغمبر اکرمﷺ د ترۀ زوے په تګ سره، د هغۀ حکم ته تسلیم شول؟ (او خلقو هیڅ مزاحمت ونۀ کړ)

او بله خبره دا چې ابوالهیاج اسدي ته د امام علي‌علیه‌السلام حکم باید د هغه حضرت د خلافت په وخت کښې وي، ځکه چې د یو ښار د خلقو په حقله د داسې حکم کول یوازې په ګردو چارو د مسلط قدرتمن واکمن له لورې ممکن دے، نو د دغه حکم د جاري کولو وخت د دریو خلیفه ګانو له دورانه وروسته ؤ، نه پوهېږو آیا په هغه وخت کښې په اسلامي سیمو کښې کوم بت پاتې ؤ چې ابوالهیاج اسدي یې مات کړي؟

نو د دې حدیث په رښتینوالي خو مونږ نه پوهېږو!

دویم: د هغوي استدلال: له پیغمبر اکرم ﷺ سره په یوۀ منسوب روایت کښې وائي: رسول الله ﷺ فرمائي: "زما

قبر بت جوړ نه کړئ لکه څنګه چې یهودیانو د خپلو پېغمبرانو قبرونه بتان جوړ کړل".

نه پوهېږو چې یهودیانو کله د خپلو پېغمبرانو قبرونه بتان جوړ کړل؟

هغوي له مصر څخه له وتلو وروسته او په دښتو کښې په لالهاندي او سرګردانۍ پسې چې د عبادت لپاره یې د اجتماع خېمه لرله د حضرت سلېمان په زمانه کښې هم چې هغه حضرت د هغه لپاره "هیکل سلېمان" عبادتځاے جوړ کړ، لکه څنګه چې په مدینه منوره کښې د رسول الله ﷺ جومات د عبادت لپاره جوړ شو. خو د خپلو پیغمبرانو د قبرونو په باب هم، لکه څنګه چې تېر شول، د هغوي ځینې خلق بیخي د هغوي د ښخولو ځاے نه پیژني، ځیني هم په غارونو کښې تر زمکې لاندې ښخ دي او د هغوي د ښخېدو ځایونه هم ګوته په شمېر خلقو پېژندل، خو هغه څه چې له: پېغمبر اکرم ﷺ څخه روایت شوي دي چې هغه حضرت د قبرونو په زیارت کوونکو ښځو لعنت کړے دے د نورو پریمانه او صحیح روایتونو په وړاندې نۀ شو برابروې.

هغه روایتونه چې د خدای ګران ﷺ پکې فرمایلي: ما تاسو د قبرونو له زیارته منعې کړي وئ اوس د هغو زیارت کوئ.

دا په لنډه توګه د هغو کسانو دلیلونه وو چې په قبرونو د ودانۍ جوړلو، بیارغوني او د هغو عبادتځای یا جومات ګوځول، حرام ګڼي.

په قبرونو د ودانۍ جوړولو، بیارغونې او عبادتځای ګرځولو عقیده لرونکي هم په دغو دلیلونو استدلال کوي.

وړومې: په قران کریم کښې:

﴿وَٱتَّخِذُواْ مِن مَّقَامِ إِبۡرَٰهِـۧمَ مُصَلًّى﴾

"او د ابراهیم له مقامه عبادتځای جوړ کړئ."[۱]

۱. سوره بقره: ۱۲۵.

﴿قَالَ ٱلَّذِينَ غَلَبُوا۟ عَلَىٰٓ أَمْرِهِمْ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِم مَّسْجِدًا﴾

"کله چې د هغوي (اصحاب کهف) په حال خبر شول، وې ویل: د هغوي په ځای یو جومات جوړوو."[۱]

نو خدای پاک مونږ ته حکم راکړی چې د خپل دوست، ابراهیم د پښو ځای عبادتځای جوړ کړو او هم دغه رنګ یې خبر راکړی چې هغه کسان چې د اصحاب کهف له حاله خبر شول وې ویل:

د هغوي (د همېشني) خوب په ځای یو جومات جوړوو، او په دغه خبر سره یې د هغوي اقدام تائید کړی دی.

دویم:د: پېغمبر اکرم ﷺ په سنتو کښې

وائي: د سول الله مبارک سنت د دې تائیدونکي دي چې هغه څه چې د خدای پاک د پېغمبر"اسماعیل" د هغهٔ د مور هاجرې بي بي او د هغهٔ د پېغلو او په ببت الله الحرام او حجر اسماعیل کښې د نورو پېغمبرانو د قبرونو لپاره

۱. سوره کهف: ۲۱.

ترسره شول چې یکې ځینې د: پېغمبر اکرم ﷺ له زمانې وروسته په پرله پسې پېړیو کښې څرګند شول او ټولو ولیدل، ټول روا او جایز دي ځکه چې: پېغمبر اکرم ﷺ په خپله د حجر اسماعیل طواف کړے او د: پېغمبر اکرم ﷺ اهلبېتو او اصحابو یې هم پیروي کړې او پاک او نېک مسلمانان تر ننه پورې په دغو سنتو ولاړ او په ترسره کېدو یې اصرار کوي.

دریم: د مور د قبر زیارت، په قبر ژړېدل او د اصحابو ژړېدل او د قبر مرمت او جوړول، د: پېغمبر اکرم ﷺ یو سنت دے

څلورم: په بام لرونکې کوټې استدلال

هغه کوټه چې یکې د رسول الله ﷺ د دوو خلیفه ګانو، ابوبکر او عمر قبرونه دي، او پرې د پاسه شین ګنبد دے اوس هم شته.

پینځم: د خپل قبر زیارت ته د: پېغمبر اکرم ﷺ له لورې د مسلمانانو هڅول.

شپږم: د خپل پلار، : پېغمبر اکرم ﷺ د قبر مبارک زیارت ته د بي بي فاطمه زهراء ﷺ ورتګ او هم دغه شان د هم دغه قبرمبارک زیارت ته د صحابي ابو ایوب انصاري ورتګ.

نو د پېغمبرانو او ولیانو د قبرونو زیارت په هغو باندې ودانۍ جوړول، او له دغو قبرونو سره عبادتځایونه جوړول د مهربان خدای پاک او د کریم او رؤف پېغمبر ﷺ له بنیادي سنتونو څخه دي.

نو په دې بنیاد له قبر سره ګروهنه لرونکې ترټولو وړومبې مخکښ لکه چې څنګه یې ځینې تفسیر کوي د خدای ګران رسول ﷺ دی او بیا د هغه حضرت قدرمنه او ګرانه لور بي بي فاطمه زهراء ﷺ او ورپسې لوړ رتبه اصحاب، او بیا مونږ د محمد و آل محمد ﷺ پیروکار او محبان یوو او دا شرافت زمونږ لپاره بس دی چې ټول د رسول الله ﷺ پیروکار یوو او هغه مبارک زمونږ نمونه او پېشوا دی.

هو! که چرې اوس هم توفیق او فرصت ترلاسه کړو، د پېغمبرانو او ولیانو په قبرونو باندې په ژړا کولو کښې او د هغو په جوړولو کښې به د: پېغمبر اکرم ﷺ د سنتو پیروي

کوو او د هغه مبارک د قبر زیارت به په خپلو ترجیحاتو کښې ګرځوو، او په دغه کار کښې به د نېک صحابي ابو ایوب انصاري پیروي کوو او خپل مخ به د رسول اللهﷺ مبارک د قبر په پاکو خاورو کېږدوو او د هغه مبارک له تو‌تې فاطمه زهراءعليها السلام څخه درس اخلو او د قبر خاورې یې بویوو او دا به وایو:

راستي آنکه شمیم سرکویت بوییـد

چه غم از بوی دو عالم به مشامش نرسد

بر من آن شد که اگر بر همه ایام رود

ظلمت دهر به تاریکي شـامش نـرسد

ژباړه:

په رینښتیا چې څوک ستا د کوڅې وږمه بوي کړي، په دواړو عالمو کښې به د غم بوي ورونه رسیږي،

په ما داسې غمونه راغلل چې که چېرې په ورځو راغلي وو ،نو ورځې به په تورو شپو بدلې شوې وې.

خو څه ووايو چې په سترګو کښې مو خار او په ستونې(حلق) کښې مو هډوکے دے. انا لله و انا اليه راجعون.

زۀ رحمان د محمد ﷺ د در خاکروب يم

که مې نۀ کړي خدا ے له دې دره جـدا

﴿والحمدُ لله رَبّ العالَمِينْ﴾